# اساسنامه

## حزب تحریک وحدت المسلمین افغانستان

### لمری فصل پیژندنه

cruel

اوله ماه :
دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک په 1370 هجری لمریزکال دحمل دمیاشیتی په 12 نیته دیو شمیرعلمی ، مذهبی ، سیاسی او روشنفکره شخصیتونو له خوا دوخت او حالاتو دغوبنتنی په اساس تاسیس شو .

دوهمه ماده :
ددی تحریک رسمی نوم به دافغانستان وحدت المسلمین تحریک وی

دریمه ماده :
دوحدت المسلمین دتحریک سمبول به دتوحید دمبارکی کلمی لاندی دغنمودده وررو ترمنح دنری جغرافیاوی نقشی په داخل کی دافغانستان جغرافیاوی نقشه وی چه به منح کی ئی دوحدت او یووالی دوه ورکورل شوی لاسونه چه په نری او افغانستان کی دوحدت او یووالی ترخنک داقتصادی پیاورتیا حرکندونه کوی

خلورمه ماده :
دافغانستان دوحدت تحریک وحدت المسلمین بیرغ به دری رنگه تورسپین اوشین وی چه په منح کی ئی دتوحید کلمه لیکل شوی ده او دهیواد ملی بیرغ په خپل خای دقدروردی

پنحمه ماده :
دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک مرکزیت به دهیواد په ختیخ زون کی وی اودضرورت په وخت کی نورو ساحوته هم انتقالیدلی شی .

**دوهم فصل**

**عمومی تشکیلات**

شپرمه ماده :
دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک عمومی تشکیلات په لاندی دول دی :

1- دتحریک رئیس یونفر
2- مرستیال دری نفره
3- مشاورین دوه نفر
4- داجرائیه شوری اعضا اووه نفر
5- دمرکزی شوری رئیس یو نفر
6- دمرکزی شوری اعضا 15 نفره
7- داداری چارورياست
8- دمالی چارورياست
9- دنشرياتو او فرهنگ رياست
10- دپلان رياست
11- د تشکیلاتو رياست
12- دنبوونی او روزنی رياست
13- دثبت اوسجل رياست
14- دخوانانوچارودتنظيم رياست
15- دبنحوچارودتنظيم رياست
16- دبشری حقوقو دساتنی او حارنی رياست

PROPERTY OF ACKU 13766



بنیاد اندیشه
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00013766 0

17- داسناد واو ارتباط ریاست
18- دنظارت او حارنی ریاست
19- دتولنیزو اصلاحاتو ریاست
اومه ماده :
دافغانستان داداری ویش له مخی پو تولو ولایاتو کی محلی تشکیلات په لاندی دول دی
1- په هرولایت کی یوتن ولایتی امیر
2- په هرولایت کی دولسوالی په سطحه یوتن مسئول
3- دولایت په سطحه دتولوولسوالیودمسئولینو کده شوری
4- په هره ولسوالی کی دشاملوکلیوپه سطحه محلی شوری کانی

## دریم فصل
## تشکیلات ، وظایف او مسئولیتونه

اتمه ماده :
دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک اجرائیه شوری دتحریک ترتولوراو با صلاحته مقام کنل کیری چی دتحریک دلوی رئیس په مشری دتحریک دمرستیالانو، مشاورینواو دمرکزی شوری درئیس خخه جوریری .
نهمه ماده :
دتحریک اجرائیه شوری صلاحیت لری چی دتحریک په تولوبرخوکی دخپل لزوم دید له مخی تغییرات رامنح ته کری
لسمه ماده :
دتحریک اجرائیه شوری صلاحیت لری چی دتحریک دمرکزی شوری داعضا په تعیین او تغییر کی مناسب اقدام وکری
یولسمه ماده :
تحریک اجرائیه شوری دتحریک دمرکزی ولایتی ، ساحوی ، او محلی شوری کانو دکاراو فعالیت راپورونه خیری او نورمهم مسایل تربخث لاندی نیسی.
دیارلسمه ماده :
دتحریک اجرائیه شوری رئیس چی دتحریک لوی رئیس هم دی صلاحیت لری چی داجرائیه شوری دغروپه تعیین او تغییرکی اقدام وکری
خوارلسمه ماده :
دتحریک اجرائیه شوری دتحریک دمرامنامی ، اساسنامی ، مقررو، قوانینو او تشکیلاتو دتصویب او تعدیل په برخه کی صلاحیت لری

## دتحریک د رئیس مسئولیتونه اودندی

پنحلسمه ماده :
دتحریک لوی رئیس چی داجرائیه دشوری دریاست دنده هم په غاره لری دمستقیمواوسری انتخاباتو له لاری دخلوروکالو لپاره تاکل کیری
شپارلسمه ماده :
دتحریک مشربه مسلمان تقوا دار، صادق ، دافغانی تابعیت درلودنکی او په تحریک کی دبنی اوفعالی سابقی درلودنگی وی
اوولسمه ماده :
دتحریک رئیس به دتحریک اجرائیه شوری ته دتحریک دتولوفعالیتونو په ارتباط راپورورراندی کوی
اتلسمه ماده :

دتحریک دلوی رئیس دنشتوالی په صورت کی به دنوموری لومړی مرستیال دچاروسرپرستی کوی .
نولسمه ماده :
که چیرته دتحریک مشروفات شی دعمومی تاکنوتروخته پوری به دتحریک لومړی مرستیال په موقت دول تحریک دریاست دنده په غاره لری
شمله ماده :
دتحریک رئیس ددولت او تحریک دلورپورو چاروکواو نورومشرانوسره رسمی لیدنی کتنی دهرکلی او تشریفاتو چاری تنظیموی
دتحریک مرکزی شوری وظایف اومسئولیتونه .

**یویشتمه ماده :**
دتحریک مرکزی شوری داجرائیه شوری حجه وروسسته دوهم مهم مقام دی چی لاندی دندی لری
1- ددی شوری اعضا دتحریک داجرائیه شوری له خواتاکل کیری
2- ددی شوری په ترکیب کی دتحریک مرکزی رئیسان شامل دی
3- هغه اشخاص چی مرکزی شوری حجه اجرائیه شوری ته تعیین اومعرفی کیری باید حداقل او ه کلنه فعاله سابقه ولری
4- ددی شوری داعضا وعمرونه باید د25 کلونوخخه لرنه وی
5- دتحریک تولی ولایتی ، ساحوی ، اومحلی خانگی به په مرکزی شوری پوری ترلی وی
6- دتحریک دولایتی ، ساحوی اومحلی شوراکانومسئولین دمرکزی شوری له خواتاکل کیری
7- دضرورت په وخت کی دتحریک دمرکزی شوری په غوبنتنه په ولایتی ، محلی ، اوساحوی برخوکی نوری خانگی هم جوریدای شی .
8- دتحریک دمرکزی شوری درئیس په غیابت کی چاری دنوموری دمرستیال له خوا پرمخ ورل کیری
9- دتحریک مرکزی شوری دتحریک دنشراتی اورکانونودمسئولومدیرانو دتاکلو او تغییر صلاحیت لری
10- دتحریک مرکزی شوری به په داخل کی دنوروسیاسی او مذهبی احزابوسره حسنه روابط تنظیموی
11- دتحریک مرکزی شوری په خپلواجراتو کی دتحریک اجرائیه شوری ته مسئوله ده

## حلورم فصل
## ریاست او مسئولیتونه

دوه ویشتمه ماده :
تول هغه اشخاص چی دتحریک په مرکزی ریاستونوکی دندی اجرا کوی باید دتحریک سابقه او با تجربه غری وی
1- دمرکزی ریاست رئیس به په تحریک کی لرترلره شیرکلنه فعاله سابقه ولری
2- دتحریک دمرکزی ریاستونو رئیسان دمرکزی شوری په غوبنتنه داجرائیه شوری له خواتاکل کیری
داداری چارو ریاست وظایف
درویشتمه ماده
دتحریک تولی اداری چاری او په لیکلی دول داجراتو انتقال ددی ریاست وظیفه کنل کیری
1- تول هغه اجراأتو چی دتحریک داعضاو په تقرراو تبدیل پوری ارتباط ولری



بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۴

2- داجرائیه شوری ، مرکزی شوری ، ولایتی شوراکانو ساحوی اومحلی خانگوداداری چاروااجرااتو تنظیمول

**دمالی چارودتنظیم ریاست**

حلورویشتمه ماده :
دتحریک دتولو اعضا وحصه دتاکل شوی حق العضویت تولول
پنحمه ویشتمه ماده :
دمالی سیستم تقویه کول او مالی منابع تنظیمول
شپږویشتمه ماده :
دتحریک دمالی چاروخبرل اوسمون
اووه ویشتمه ماده :
تول ترلاسه شوی عایدات به مالی ریاست ته ورکول کیری او وروسته به دضرورت ورمصارف دتحریک دریاست مقام دحکم خخه وروسته تادیه کیری
اته ویشتمه ماده :
داسناد واو ارتباط ریاست لاندی دندی اجرا کوی
1- دتحریک دلوی رئیس فرمانونه ، حکمونه اوهدایت اورونده مراجعوته تکثیرول
2- دتحریک دریاست دمقام او داجرائیه شوری پربکری تکثیرول
3- دتحریک داخی او خارجی ارتباطی چاری تنظیمول
نهه ویشتمه ماده :
دتحریک دنشریاتو او فرهنگ ریاست لاندی چاری تنظیموی
1- دتحریک رسمی نشریاتو ،جراید و مجلو، ورخپانو، ابلاغیو، کتابونواو نوروتبلیغاتی او عرفانی چاروتنظیمول
2- په هیواد کی دکلتوری او ثقافتی ودی لپاره لیکنی او خپرنی ترتیبول
3- په هیواد کی دآزاد ومطبوعاتو له لاری دخپل تحریک اهداف نشرول
دیرشمه ماده :
دخوانانودچارودتنظیم ریاست ووظایف
1- دتحریک ددعوتی ساحی دپراختیا په منظورپه مکاتبو، مدارسو او دعالی اومسلکی تعلیماتو په موسساتو کی دحلقاتو او شعباتو جوړول
2- دحوان نسل داصلاح او دسیاسی استعداد ونودارتقا په غرض د مطبوعاتی او فرهنگی چاروتنظیمول
3- دحوانانو دپوهی ، بصیرت او جرات دسطحی دلوړولوپه منظورد ذهنی مسابقاتواو نوروفرهنگی چاروبرابرول
یو دیرشمه ماده :
دپلان ریاست لاندی چاری ترسره کوی
1- دچاروداحیا اونیه سمون په خاطردتحریک دنویوانکشافی پلانونوجوړول
2- دتحریک ددعوتی او سیاسی چارودسمون او دپیشرفت په خاطردلند مهالواو اورد مهالوپلانونوترتیبول
دوه دیرشمه ماده :
دتحریک دتشکیلاتو دریاست مسئولیتونه په لاندی دول دی
1- دتحریک داجرائیه ، مرکزی ، ولایتی ، ساحوی ، اومحلی تشکیلاتو جوړول
2- په ترتیب شویوتشکیلاتو کی دتزیید او تنقیص په ارتباط اړونده اداراته خبرورکول
3- دتشکیلاتو خبرل او دنویو تشکیلاتو لپاره پلان جوړول

4- په تاکل شویو تشکیلاتو کی داجرا شویو تعیناتو تکثیرول
دری دیرشمه ماده :
1- پـه تحریـک کـی نویوشـامل شویواعضـا وتـه دتحریـک دمرامنـامی ، اساسـنامی ، مقرروا‌ونوروارونده روزنیزو مواد وتشریح کول
2- دکورس په شکل کی دتحریک اعضا وته دتحریک داهدافو او مقاصد وتوضیح کول
3- دتحریک دغرودسالمی روزنی په خاطردروزنیزوسمینارونو جوړول
4- په فکری او شعوری دول دتحریک داعضا روزنه او تربیه کول
5- داسلام دمقدس دین دارشاداتوپه رنا کی دتحریک داعضا دصورت اوسیرت برابرول
حلوردیرشمه ماده :
دثبت اوسجل ریاست لاندی دندی ترسره کوی
1- دتحریک دتولوشاملواعضا ودنومونو مکمل اندراج ترتیبول
2- نویو اعضا وته دتحریک دعضویت دکارت توزیع کول
3- دتحریک دهرغری خلص سوانح اولنده بیوگرافی ترتیبول
4- دتحریک دآزمایشی اصلی او کدری اعضا و دشهرت ترتیبول
5- دیوی دقیقی احصائی ترتیبول
پنحه دیرشمه ماده :
دبنخو چارو‌ریاست لاندی وظایف لری
1- دتحریک په تشکیلاتو کی دنبحو استخدامول
2- دبنحـو دعلمـی ، سیاسـی او اخلاقـی معیـارونودلوررولو پـه خـاطردعلمی او فرهنگـی مجالسوجوړول
3- بنحو ته داسلام دمقدس دین دارشاداتو په رناکی دوحدت او یوالی درس ورکول
4- داسلامی معیارونو په اساس دبنحو دحقوقو تشریح کول
5- بنحو ته دزده کری مناسبه زمینه برابرول
شپردیرشمه ماده :
دبشری حقوقو دحارنی او پالنی ریاست لاندی وظایف اجرا کوی
1- دهیواد په داخل او خارج کی دبشری حقوقو دحارنی او پالنی لاری چاری لتول
2- داسلام مبین دین اوبین المللی اصولی مطابق دبشردحقه حقوقوحجه دفاع کول
3- حلکوته دکارپیدا کول او بیکاری او غربت له منحه ورل
4- په عامه سطحه دبشری حقوقو دساتونکوتولنوسره مرسته او همکاری کول
5- دطبیعی حوادثودواقع کیدو په صورت کی دقربانیانو سره مرسته کول
اووه دیرشمه ماده :
دتولنیزواصلاحاتو ریاست لاندی دندی اجرا کوی
1- دتحریک داعضا وترمنح داصلاح اوسمون رامنح ته کول
2- په هیواد کی دمیشتو قومونو ، ولسونواو پرکنو ترمنح د موجود وشخرودحل لپاره اصلاحی پروکرامونه جوړول
3-دعامه وکرواو بی سرپرسته اشخاصوداصلاح او روزنی لاری چاری لتول
4- دعامه افکارودتنویراو روبنانه کولو په منظورداصلاحی تبلیغاتو په کاراچول
اته دیرشمه ماده :
دنظارت اوحارنی ریاست لاندی دندی اجرا کوی
1- ددی ریاست وظایف او وجایب یوه اندازه پراحه او وسیع دی چی دتحریک پـه هـره برخـه کی عامه حارنه او پلتنه په برکی نیسی
2-دحارنی پـه وخـت کـی دثابت شویو مجرمواشخاصـو موضـوع بـه داجرائیه شوری مقام تـه پیشنهاد او هدایت به غوبنتل کیری

3- دجرم داثبات په صورت کی دشوری دپریکری له محی مجرم ته تاکل شوی سزاکانی ورکول کیری
4- دهغه اعضا و تعقیب چه دتحریک دموضوعه اصولواومقرراتو حخه په سرغرونه تورن وی
5- دتحریک په اعضا وموجود عامه شکایتونه اورید لواوخپرل
6- هغه اعضا چه دتحریک دنوروااعضا وله خوا ورباندی شکایتونه موجود وی
7- هغه اعضا چه دنوروتحریکونو اواحزابو سره په سیاسی عضویت او ارتباط تورن وی
8- دتحریک دتولوموضوعه اصولو، قوانینو، مرامنامی ، او اساسنامی دتنفیذ او تطبیق خبرنه او عملی کول
9- دتحریک دمشرتابه دمحترم مقام دفرمانونو ، حکمونواوهدایاتو پرتطبیق خارنه کول

## پنحم فصل
## په تحریک کی دعضویت شرایط

نهه دیرشمه ماده :
دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک دعضویت شرایط په لاندی دول دی
1- په تحریک کی دشاملیدونکی شخص عمر 18 کلنی خخه لرنه وی
2- دتولو اسلامی اوشرعی قوانینو منونکی او عملی کونکی وی
3- دافغانی تابعت درلودونکی وی
4- دتحریک دموضوعه اصولو، مرامنامی ، اواساسنامی منونکی او عملی کونکی وی
5- شخصی اوتولنیزا عمال نی دتحریک دتکلاری خلاف نه وی
6- دنورواحزابو سره متعهد نه وی
7- په سیاسی دگرکی دبدی سابقی درلودونکی نه وی او هم دنورواحزابو خخه دجرم په ارتکاب خارج شوی نه وی
8- په مسلسله توکه دتحریک دحق العضویت ورکوونکی او تحریک ته وفاداروی
9- دمخدرمواد وپه استعمال عادی نه وی
10- دجرم دارتکاب په صورت کی دتاکل شوی جزامنونکی وی
حلوینتمه ماده :
وحدت المسلمین هغه تحریک دی چه هیخ کومه مالی اواقتصادی تمویلوونکی منبع نه لری اوخپلی تولی چاری دشاملو اعضا و په حق العضویت پرمخ وری
1- هغه اشخاص چه په تحریک کی کدری مقام لری او داجرائیه غری دی دمیاشتی به 200 افغانی حق العضویت ورکوی
2- هغه کسان چه دوهمه درجه اعضا او دمرکزی شوری غری دی میاشتی به 100 افغانی حق العضویت ورکوی
3- هغه اعضا چه دتحریک په ولایتی ، ساحوی اومحلی بروکی فعالیت کوی دمیاشتی به 50 افغانی حق العضویت ورکوری
4- محصلین اومتعلمین به هره میاشت 20 افغانی حق العضویت ورکوی
5- عام اعضا اوکارکونکی به هره میاشت 10 افغانی حق العضویت ورکوی
6- تجاران اوعام کاروباریان به دخپل مالی توان مطابق حق العضویت ورکوی
یو حلوینبتمه ماده
هغه خوک چه غواری دتحریک عضویت ترلاسه کری درسمی سوکند دپورته کولوخخه وروسته دمعرفت دثبت دفورمی په امضا کولومکلف دی
دوه حلویشمته ماده :
دتحریک وحدت المسلمین افغانستان رسمی سوگند نامه په لاندی دول ده

دلوی خدای په مبارک او مقدس ذات سوگند یادوم چه دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک عضویت می بدون دکوم جبراواکراه خخه په خپله خوبنه منلی دی او زه به دتحریک دمرامنامی اساسنامی او تولومقرره اصولو له محی خپل فعالیت ته په صادقانه دول دوام ورکوم اوتل به دخپل دین هیواد اوتحریک ملی کتونه متعهدیم .

دری حلوینبتمه ماده :

په تحریک کی دآزمایشتی دوری حده داصلی عضویت دوری ته دارتقا لپاره دتحریک ددری تنو اصلی اعضا وتائید شرط دی

حلورحلوینبتمه ماده :

داصلی عضویت له دوری حه کدری دوری ته دارتقا لپاره دتحریک د 5 تنوکدری غروتائید او سابقه ضروری ده

پنحه حلوینبتمه ماده :

تول اعضا مکلف دی چه دتحریک ملی اوسیاسی کتی دهردول فردی او شخصی کتو حده لوری وکنی

شپږحلوینبتمه ماده :

دتحریک تول غری مکلف دی چه دتحریک په مربوطه تکشیلاتو کی خپل خانونه منسجم کری اودتحریک د ذیصلاح مقاماتو صادرشوی حکمونو تطبیق او عملی کری

اووه حلوبنبتمه ما ده :

دتحریک تمام اعضا دتحریک داسرارو او رازونو په ساتنه مکلف دی .

اته خلوینبتمه ماده :

تول اعضا په تولنه کی عموماً او په خپلومنحونوکی خصوصاً د خوشحالی او خپکان په تولوکی دکدون او همکاری په کولومکلف دی

نهه خلوینبتمه ماده :

هرغری مسئولیت لری چه دتحریک رښتینو مشرانو اوکدری شخصیتونو ته دقدراو احترام په سترکه وکوری اولازم درناوی یی و کری

## شپږم فصل

## دتحریک اعضا وته جزا اوتشویق

پنحوسمه ماده :

دتحریک هغه شمیراعضا چه تحریک ته صادقانه فعالیت او نبه وفاداری ثابته کری او دتحریک دتولومقرراتو او اصولو پابند وی دتحریک له خوا تشویق کیری چه البته داتشویق به په معنوی دول په تحسین ناموتقدیرناموستاینلیکونو اوتحریکی سمبولونو سره صورت نیسی

یوپنحوسمه ماده :

دتحریک هغه شمیراعضا چه حرکت یی دتحریک دموضوعه اصولوسره په تضاد کی وی دجزا دقانون له محی مجازات کیری

یو پنخوسمه ماده :

هغه موارد چه تحریک اعضا په کی دجزا ورکرحی

1- دتحریک دلورومقاماتو دفرمانونو حکومونو ، هدایاتو او تصمیمونو نه عملی کول

2- دتحریک په مربوطه پنحو مسلسلو غوندو کی کدون نه کول

3- دتحریک مالی ریاست ته په مسلسل اومنظم دول تاکل شوی حق العضویت نه ورکول

4- په بنکاره او پته توکه تخریبکاری او پته توکه تخریبکاری او دتحریک داعضاودحیثیت دکمولو هلی حلی کول

دری پنجوسمه ماده :

هغه جزاکانی چه مجرمو اشخاصو ته تاکل شوی دی

1- په شفاهی دول توصیه کول

2- په لیکلی دول اخطاروركول
3- درتبی تیتول
4- دتحریک ححه اخراج او کوبنه کول
خلوپنجوسمه ماده :
دتحریک دعضویت ححه دیوم مجرم غری اخراج داروندہ ریاست به غوبتنه دپلتنی ریاست په تائید او موافقه داجرائیه شوری دحکم په اساس صورت نیسی
پنحه پنحوسمه ماده :
داچه دتحریک دعضویت ححه دیوم مجرم شخص اخراج یوه لویه جزا ده نو ددی جزاب دتاکلو په وخت کی باید هردول شخصی مخالفتونه کینه او حسد له پامه وغور خول شی
شپږپنحوسمه ماده :
دتحریک دنظارت او حارنی اداره وظیفه لری چه دخارج کیدونکی شخص په ارتباط موثق او قناعت بخشه اسناد تکمیل کری
اووه پنجوشمه ماده :
دتحریک هغه شمیر اعضا چه بدون دجرم دارتکاب خخه دشخصی معاذیروله محی استعفی کوی خیل استعفی لیک به په لیکلی دول خپلی اروندی اداری ته سپاری اداره مکلفه ده چه موضوع داجرائیه شوری ریاست ته پیشنهاد کری اومنظوری وغواری

**اووم فصل**

**اته پنجوسمه ماده : متفرقه احکام**

1- دتحریک داروند چارو دلازیات سمون او نبه والی په منظوردتحریک دمرکزی شوری په غوبنتنه اودتحریک داجرائیه شوری په منظوری خانگری اصول ، قوانین اوتشکیلات جوریدلای شی .
2- دتحریک داجرائیه شوری ، مرکزی شوری ، اروندہ ریاستونو ، ولایتی ، ساحوی محلی تشکیلاتو کی تاکنی تعیینات دتحریک دذیصلاح مقاماتو دحکمونوله مخی صورت نیسی
3- دضرورت په وخت کی نوی جور شوی تشکیلات دمرکزی شوری په غوبنتنه داجرائیه شوری په تائید منظورکیدای شی
نهه پنحوسمه ماده :
دا اساسنامه دتحریک دمرکزی شوری دتصویب او دتحریک داجرائیه عالی شوری دتائید اومنظوری خخه وروسته دتحریک په تولوچاروکی نافذه او دتطبیق ورده
شپیتمه ماده :
دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک به ددی اساسنامی له محی چی په 7 فصلونو او 60 ماده کی ترتیب شو اودتحریک دمرکزی شوری لخوا تصویب اوداجرائیه شوری له خوا تائید اومنظورشوی خپلی تولی مربوطه چاری پرمخ بیائی .

**ومن الله التوفیق**



ACKU

# مرامنامه

دافغانستان دوحدت المسلمین تحریک چه په 1370 هجری لمریز کال دحمل دمیاشتی په 12 نیته دهیواد دیو شمیر علمی او سیاسی شخصیتونو له خوا دوخت او حالاتو دغوښتنی په اساس تاسیس شو ددغه تحریک دمرامنامی کرنلاری اساسی مواد په لاندی دول ترتیب شول

1- لوی خدای دواحد خدای په حیث منل او دهغه له خوا درالیرل شوی اسمانی قانون اوداسلام دمبین دین په ارشاداتو په کامل دول عمل کول دوحدت المسلمین مرام دی

2- دلوی خدای له خوا درالیرل شویو انبیا و صحابه کرامو او سلفوصالحینو نقش او تگ لاره تعقیبول اودهردول انحراف څخه دده کول

3- په عملی دو دهیواد په سطحه داسلامی قانون او عدالت عملی کول

4- مسلمانانو ته پیش مشکلات درک کول او دهغی دحل عملی لاره لټول

5- په عامه سطحه داسلام دمقدسو اماکنو تحفظ او ساتنه کول

6- دوکرو، قومونو، سیاسی او مذهبی احزابو او ملتونو ترمنځ هرنوع نژادی قومی، تنظیمی، مذهبی او سمتی تعصبات له منځه ورل او اجتماعی عدالت او وحدت تامینول

7- دافرادو ، احزابو، قومونو، او ملتونو په سطحه شرعی او بشری مساوات قائیمول

8- قانون عدالت به دژوند په تولوساحو کی دتطبیق وروی

9- دتولوفعالیتونو نهائی هدف به دالله تعالی رضا دخلکوخیرخواهی او په جامعه کی دوحدت او یووالی تامینول وی

10- داسلام مقدس دین دیونریوال ، پراخ نظره دین په حیث دنیا ته معرفی کول او دهرنوعه انحصار اوتنگ نظری حخه دده کول

11- داسلام مقدس دین پرضد دخارجی تبلیغاتو اوداسلام دناسم تمثیل او فیتوا عملی کول

12- دینی اومذهبی چاروکی دملک دعلما او روحانی شخصیتونو د فیصلی او فیتوا عملی کول

13- هیچا ته ددی حق نه ورکول چی ددین او مذهب حخه ناوره استفاده وکری

14- ددامی مذهبی آزادی محه نیول چی داسلام دمقدس دین پرضد وی

15- داسلامی افغانی فرهنگ کلتوراو عنعناتو ساتل او ورته وفادار پاتی کیدل

16- داسلامی احزابو اسلامی هدفونه اومرامونه تائیدول

17- په تولو حالاتوکی داسلامی سیاست تعقیبول اوعملی کول

18- دخپل دین وطن او ملی مقدساتو په کلکه دفاع او ساتنه کول

19- دسیاسی خپلواکی ملی خپلواکی او حمکنی بشیرتیا په اصولو عمل کول

20- دخپل موقف او دریح په داکه خرکندول ول دمنافقاتو اودوه محی سیاست حخه دده کول

21- دیو مستقل سیاست او خپلواکی پالیسی ساتل او دفکری انحصارله منحه ورل

22- داشخاصو او افراد و دتغییرپه وخت کی دقانون دتغییر حخه دده کول

23- سیاسی او مذهبی احزابو ته دقانون مطابق دفعالیت زمینه برابرول

24- وظایف او مسئولیتونه اشخاصوته دهغوی دلیاقت اواستعداد مطابق ورسپارل

25- تولنیزاو اجتماعی عدالت تامینولو ته خاصه پاملرنه کول

26- دتولوملی او بین المللی اصولو اومقرراتو رعایت کول

27- آزادی فرهنگی اومطبوعاتی مبارزی ته لاره خلاصول

28- دچاروپه اجرا کی مخلصانه اوعادلانه عمل کول

29- دهرنوع تعصب او توپیرخخه پاک تعلیمی نظام جوړول اودمکاتبو مدارسوفعال کول

30- دبشردحقه حقوقو حخه دفاع کول اودبشردحقوقو مدافع تولنوسره مکمله همکاری کول

31- په هیواد کی دسولی ، امنیت ، اوآزادی فضا رامنح ته کول او وکروته دکارپیدا کول

32- په تولنه کی دخپلوحقه حقوقو تثبیتول او دنوروپرحقوقو دتجاوزمخه نیول



بنیاد اندیشه
تاسیس ۱۳۹۲

33- دتحقیق او تبیین په فلسفه عمل کول اودخلکو دبی خایه خورلو مخه نیول
34- په نړی واله سطحه دویری اچوونی او تروریزم په مقابل کی عملی قیام کول
35- دمخدره مواد و داستعمال ،تجارت ، او قاچاق ، په کلکه مخنیوی کول
36- دوکرودعامه اصلاح په خاطردعیاشی او فحاشی مبدا او منشا لومنحه ورل
37- دتیپانوجنگی بند یا نواوناروغانوسره اسلامی او بین المللی قوانینو په اساس عمل کول
38- دهیواد دخپلواکی او آزادی په خاطردهراستعماری خواک دفعالیت مخه نیول
39- په هیواد کی دعام المنفعه چارو تنظیمول او دتولنیزفقراو غربت له منحه ورل
40- دوکرودشخصی شتمنیواو ملکیتونو ساتنه او حفاظت کول
41- د اداری فساد مخه نیول ، غدر ، کونکو ، بدی او رشوت اخیستونکوته قانونی جزا ورکول
42- قانون اونظام ته وفادار پاتی کیدل اوهغه عملی کول
43- ددولتی املاکواوتول کتوتاسیساتوساتنه اوورحه دشخصی استفادی مخنیوی کول
44- په هیوادکی داخلی او خارجی تجارت ، اقتصادی پیاورتیا او سرمایه گذاری ته لاره خلاصول
45- دتولوکاوندی هیوادونو سره حسنه روابط ساتل او هغوی ته په خپلوکورنیوچاروکی دمداخلی حق نه ورکول
46- خیریه تولنواو بین المللی خیریه موسساتو ته دفعالیت زمینه برابرول او ورسره همکاری کول
47- دیو واحد ، متحد ،خپلواک اومترقی افغانستان جوړول
48- بنحوته داسلام دمقدس دین داصولو مطابق دزده کړی او کارزمینه برابرول
49- بنوونه او روزنه عام کول او ددینی اوعصری علوموتقویه کول
50- په داخل کی قانون جوړونکی قوی ، پریکړه کوونکی او عملی کوونکو قواوته اختیارات ورکول او دهغوی احترام کول
51- دشخصی اهدافو او اغراضو په خاطردخلکومحرومیت او محکومیت له منحه ورل
52- دواقعی نظم او اداری جوړول او دهرنوعه کدودی او انارشیزم مخه نیول
53- دملی ، فرهنگی او تاریخی آثاروتنظیم او ساتنه کول
54- ساینس او عالی تکنالوجی ته انکشاف ورکول او دناپوهی پرضد عملی مبارزه جاری ساتل
55- هیواد وال دربردیو دذهنی غلامی ، غلط کلتوراو بد اخلاقی خخه آزادساتل
56- په هیواد کی آزاده انتخاباتی مبارزه منح ته راورل او دملت درای احترام ساتل
57- په کران هیواد افغانستان کی دسولی امن او بین الافغانی تفاهم استقراراو دجهاد اوجهادی شخصیتونو دبرم او وقارساتنه او تحفظ کول
58- دهیواد دجغرافیوی حدود و اوسیاسی حریم خخه په کلکه دفاع کول
59- په هرنوعه حالاتو کی دخپل تحریک اصولواومقرراتو ته وفادارپاتی کیدل
60- دتحریک داهدافوا وضع شویو قوانینو خخه په مادی معنوی اومنطقوی دول دفاع کول
61- دتحریک داکمالاتو واحده مالی او اقتصادی منبع به دتحریک دشاملو افراد وپه تاکل شوی حق الشمولیت او حق العضویت متکی وی
62- دوحدت المسلمین تحریک به په هیوادکی دوخت داسلامی حکومت دنافذه قوانینو په رناکی دحکومت سره لازمه همکاری کوی
63-په تحریک کی دداخلی بی نظمی او یا دخارجی دوخت دحکومت لخوا دتحریک بقا ته دخطر پینبدو په وخت کی به دتحریک اجرائیه اومرکزی شوری په کده دتحری داینده تک لاری په منظور فیصله کوی
64- دوحدت المسلمین تحریک به دهیواد داعمار مجدد او بیا رغونی په برخه کی فعاله ونده اخلی .

65- دافغانستان دوحدت المسلمين دتحريک دامر امنامه دتحريک د مرکزی شورا دتصويب داجرائيه شوری دتائيد اودتحريک درهبری د محترم عالی مقام دکتنی او امضا خخه وروسته دتحريک په تولوبرخو کی تطبيق او دمنلو روده

66- دافغانستان دوحدت المسلمين تحريک به ددی مرامنامی له محی چی په 66 مادو کی ترتيب شوه خپلی تولی اروندہ چاری پرمخ بيائی .

**ومن الله التوفيق**

ACKU

PROPERTY OF ACKU 13766



بنیاد اندیشه